
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د فبروري نهمه | ۵۱۰مه ګڼه


# د امریکا د خونړۍ جګړې بله رسوایي؛

## امریکايي پوځي: موږ ته ویل شوي وو چې د خلکو وژل او ویجاړۍ کول مو دنده ده



۳

د ملي یووالي حکومت مشرانو ته د الیس وېلز شرمووونکی پیغام
۲ مخ

د تقاعد سیستم، ستونزې او حللارې
۲ مخ

هرآنچه باید درمورد ویروس کرونا بدانید
۵ مخ

## وېلز: د نشه يي توکو په قاچاق کې د لوړپوړو امنیتي چارواکو ښکېلتیا ناهیلې کوونکې ده

په کابل ښار کې د مخدره توکو په قاچاق او توضیع کې د لوړپوړو امنیتي چارواکو ښکېلتیا غبرګونونه را پارولي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د کورنیو چارو وزارت مسوولانو وویل چې په کابل ښار کې یې د نشه يي توکو د قاچاق او د دې موادو د توضیع په تور د کابل امنیه قوماندانۍ څو مهم چارواکي نیولي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې دې موضوع ته په اشارې سره ویلي، د مخدره موادو په قاچاق کې د لوړ پوړو امنیتي مسوولانو ښکېلتیا ناهیلې کوونکې ده.

وېلز دغه راز ویلي، د مخدره موادو قاچاق او تجارت په افغانستان کې بې ثباتي زیاتوي، د ښې حکومتولۍ چارې له خنډ سره مخ کوي او د اقتصادي پرمختګ مخه نیسي.

نوموړې زیاته کړې، د قانون د پلي کېدو په موخه باید په فساد کې د ښکېلو لوړ پوړو چارواکو پر ضد جدي اقدام وشي. هغې دغه راز ویلي: «دا ناهیلې کوونکې ده چې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې شپږ پولیس چارواکي خپله په قاچاق کې دخیل وي، د مخدره موادو قاچاق او تجارت بې ثباتي زیاتوي او په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ او اقتصادي ودې مخه نیسي. د قانون پلي کوونکې ادارې باید د مفسدو چارواکو پر وړاندې جدي اقدام وکړي.»

په ورته وخت کې د چارو شنونکي په کورنیو چارو وزارت او نورو ادارو کې د فساد په تړاو اندېښنه ښیي او وایي چې په دولتي ادارو او نورو برخو کې د فساد زیاتوالی د دې لامل شوی چې افغانستان هر کال د فاسدو هېوادونو په کتار کې راشي.

## د رایو د بیاشمېرنې په تړاو وروستۍ پرېکړه د اختلافونو له کبله ټاکنو کمېسیون ته نه ده استول شوې



۲ مخ

2 017550 139621

## پوهنتون

۴ مخ

### زاول د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د زاول د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداره غواړي، چې لومړی پوهنتون ته ارتقاع وکړي، د ماسترۍ پروګرام پیل کړي، نور پوهنځي ولري او پر کابل سربېره، د هېواد په نورو ولایتونو کې هم څانګې ولري.




## بهسودي: په ننګرهار کې د شاتو په تولید کې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی



د ننګرهار د کرنې او مالدارۍ ریاست سرپرست ډاکټر محمدضمیر بهسودي ویلي چې د تېر کال په پرتله د دغه ولایت د شاتو مچیو په تولید او تکثیر کې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

د بهسودي په خبره، په ننګرهار کې د شاتو مچیو نږدې ۶۰۰ لوی او واړه فارمونه فعال دي چې له دې ډلې ۳۵۰ یې د ننګرهار د شاتو مچیو ټولنې سره راجستر شوي دي.

د چارواکو په خبره، د ننګرهار د شاتو مچیو په فارمونو کې له ۲۲ تر ۳۰ ډوله د شاتو مچۍ شته او په دغو فارمونو کې تر څلورو زرو پورې کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

بهسودي دغه راز ویلي چې سږ کال په دغه ولایت کې ۵۰۰ مټریک ټنه شات تولید شوي چې د تېرکال په پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی ښیي. دا په داسې حال کې ده چې تېر کال په ننګرهار ولایت کې ۳۵۰ مټریک ټنه شات تولید شوي وو.

## طالبان: واشنگتن باید برای رسیدن به صلح گام‌های جدی بردارد و حکومت افغانستان مانع صلح نشود



همزمان با ادامهٔ گفت‌وگوهای غیررسمی نماینده‌گان امریکا با گروهٔ طالبان در قطر، این گروه در خبرنامه‌یی گفته‌است که واشنگتن باید برای رسیدن به صلح گام‌های جدی بردارد و حکومت افغانستان مانع صلح نشود.

طالبان، در خبرنامه خواهان مسؤلیت‌پذیری ایالات متحده در گفت‌وگوهای صلح شده‌اند و گفته‌اند که هرگونه تأخیر در این روند، به پایان جنگ کمک نخواهد کرد.

در بخشی از این خبرنامه آمده‌است: «تأخیر و بهانه‌های موجود در این مسیر، دلیل ادامهٔ بحران است و ایالات متحدهٔ امریکا باید دربارهٔ موفقیت‌های روند صلح گام‌های جدی بردارند و مسؤلیت‌های خود را انجام دهند.»

در همین حال، سیداکبر آغا عضو پیشین گروهٔ طالبان نیز می‌گوید که ایالات متحده شرطهایی تازه‌یی را در گفت‌وگوهای صلح مطرح کرده‌است: «فعلاً در بن بست است. امریکایی‌ها این بهانه را کردند و طالبان را به این باور ساختند که بعد از این شرط، شرط دیگر را مطرح کنند و ممکن تمدید کاهش خشونت‌ها را نپذیرند.»

اما حکومت افغانستان، صلح را اولویت می‌داند و انتظار دارد که طالبان به صلح واقعی آماده شوند.

درانی وزیری، معاون سخن‌گوی رئیس‌جمهور بیان داشت: «طالبان باید از جنگ و خشونت دست بردارند و به پروسهٔ صلح به معنی واقعی یکجا شوند». در همین حال، ریاست اجرائیه رأیزنی‌های پسین میان نماینده‌گان امریکا با طالبان در دوحه را سرنوشت ساز می‌داند.




## دریـــغ

### د ملي يووالي حکومت مشرانو ته د اليس وېلز شرموونکی پيغام

د مرکزي او جنوبي اسيا په چارو کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستياله اليس وېلز وايي چې د ملي يووالي حکومت مشران دې د ټاکنو د پايلو تر اعلان پورې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي. نوموړې ويلي چې خلک د ټاکنو پايلو ته په تمه دي، خو هيله ده چې حکومتي رهبران د هېواد امنيت، ثبات او اقتصاد ته پام وکړي. اليس وېلز له هغه وروسته دا څرګندونې کوي چې د ملي يووالي حکومت يو مشر محمد اشرف غني په يو اړخيز ډول څو سرپرست وزيران لرې کړل او نوي ټاکنې يې وکړې، خو عبدالله دغو ټاکنو ته غبرګون وښود او مخالفت يې وکړ.

دا په رښتيا هم د شرم، خجالت او ذلت ځای دی چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت زموږ حکومتي مشرانو ته وايي چې په خپلو کې همکاري وکړي او د لانجو پر ځای د هېواد امنيت، ثبات او اقتصاد ته پام وکړي. که په دغو حکومتي مشرانو کې لږ هم افغاني غرور پاتې وی، دوی به هېڅکله داسې کړنې نه وی کړې، چې خپله دوی او افغانستان ته د شرم او خجالت سبب شوي وی. له بله اړخه دوی د واک لپاره دومره سپين سترګي کوي چې کله قوانين تر پښو لاندې کوي او کله هم خپلمنځي هوکړې. د ملي يووالي حکومت د افغانستان د اساسي قانون، تاريخ او ارزښتونو خلاف د يوې سياسي معاملې په پايله کې جوړ شو. محمد اشرف غني او عبدالله د واک د ويشلو او ګډ حکومت جوړولو رسمي پرېکړه وکړه. دوی دا نه بښل کېدونکی جرم وکړ او اساسي قانون يې تر پښو لاندې کړ، خو ويل به يې چې دا کار د افغانستان د سترو ګټو لپاره کوي. دوی چې د هوکړې پر اساس حکومت جوړ کړ، نو بيا خو دې لږ تر لږه دا اخلاقي مسووليت احساس کړي چې خپلې دې هوکړې ته ژمن پاتې شي او نور داسې له شرمه ډک کارونه ونه کړي چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت هم زموږ په ورځنيو چارو کې لاسوهنه وکړي. دوی خو دې رښتيا د سترو مصلحتونو په اړه لږ فکر وکړي.

اشرف غني او عبدالله بايد دواړه پوه شي چې اته مياشتې وړاندې د ملي يووالي حکومت د مشرانو کاري موده، که څه هم له سره ناقانونه وه، ختمه شوې. د دوی کار نه د اساسي قانون پر اساس، نه د هوکړې پر اساس او نه هم د بل څه پر اساس قانوني جواز لري. دا په واضح ډول د اساسي قانون خلاف واکمني ده چې خلک يې هم له عذاب سره مخ کړي. له بده مرغه لا هم معلومه نه ده چې تر کله پورې به د دوی کار همداسې دوام کوي. کله چې د دوی واکمني ناقانونه ده او هېڅ ډول جواز نه لري، خو خلک يې بيا هم زغمي، نو پکار ده چې دوی هم لږ د خلکو او افغانستان په اړه فکر وکړي. دوی بايد د واک غځولو، زياتولو او انحصار هڅې پرېږدي. لږ بايد د شرم او خجالت احساس وکړي او داسې کارونه ونه کړي چې بيا د بل هېواد د بهرنيو چارو وزارت دوی ته توصيه وکړي چې د خپل هېواد امنيت، ثبات او اقتصاد ته پام وکړئ.

# د تقاعد سیستم، ستونزې او حللارې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

له تېرو څو کلونو راهيسې حکومتي چارواکي د تقاعد په برخه کې د اسانتياوو رامنځ ته کولو په اړه له متقاعدينو او اړوندو اړخونو سره ډول ډول ژمنې کوي. د بېلګې په توګه، د تقاعد په سيستم کې د شفافيت راوستلو، د کارونو د چټکوالي، د فساد مخنيوي او ځينو نورو اړخونو په اړه څرګندونې کوي، مګر بيا هم ليدل کېږي چې متقاعدين او يا د هغوی ورثه له ځينو ستونزو سر ټکوي. بلخوا يو څه موده وړاندې جمهور رييس د يو ځانګړي فرمان صادرولو له مخې، په غير دولتي ادارو کې د تقاعد شويو کار کوونکو د تقاعد مقرره هم د پلي کولو په پار نافذه کړه. دا چې د تقاعد په سيستم کې رښتيا ستونزې شته او که نه؟ د متقاعدينو او د هغوی د ورثه وو دعوې تر کومه بريده سمې دي؟ او په خصوصي سکټور کې د تقاعد مقرره تر کومه بريده د پلي کېدو په حال کې ده؟ په دې تحليل کې پرې شننه کوو.

**په افغانستان کې د تقاعد سيستم**

په افغانستان کې د کار قانون له مخې، هغه کسان چې له دولت سره پر رسمي دنده بوخت وي او عمر يې ٦٥ کالو ته ورسيږي او يا له دولت سره د ۴۰ کالو تر مودې دنده تر سره کړي، د تقاعد اړوند قانون پرې د پلي کېدو وړ دی. له دې پرته تل پاتې ناروغي، مړه کېدل او معلوليت هغه حالتونه دي چې د دولتي کار کوونکو او يا د هغوی ورثه د تقاعد له امتيازاتو څخه برخمن کولی شي. په ځينو حالاتو کې که يو څوک وغواړي چې په خپله خوښه تقاعد شي، نو اړينه ده څو له دولت سره د ۲۵ کالو مودې دندې تر سره کولو پر وخت يې ۵۵ کاله عمر بشپړ کړی وي.

د ملکي خدمتونو د کار کوونکو له مياشتنۍ تنخوا او مزد څخه يوه ځانګړې فيصدي وضع کېږي او هره اړونده اداره د خپلو کار کوونکو وضع شوې ځانګړې فيصدي بيا د تقاعد خزينې حساب ته لېږدوي.

د تقاعد حقوق په خپله متقاعد او د هغه نشتون په صورت کې د نوموړي ورثه ته چې په لومړي سر کې مېړه يا مېرمن او د هغوی نشتون په وخت کې هغه لور چې واده شوې نه وي، هغه زوی چې د اتلس کلنۍ عمر يې نه وي پوره کړی او يا پر تحصيل بوخت وي او يا هغه تن چې تل پاتې ناروغي ولري او يا معلول وي او يا د کورنۍ هغه غړی چې د عسکرۍ خدمت تر سره کوي، په ترتيب سره ورکول کېږي. د دلوې مياشتې لسمه نېټه د حکومت له لوري د متقاعدينو د ملي ورځې په نوم نومول شوې ده.

**د تقاعد سيستم اړوند ستونزې**

په تېرو کلونو کې د تقاعد خزينې د تقاعد شويو کسانو سهميې او حقوقو ساتلو او ادا کولو لپاره کوم ځانګړی صندوق نه درلود، په داسې حال کې چې د هېواد د بودجې ډېره برخه تر دې دمه پر بهرنيو مرستو ولاړه ده او د دولت لپاره ستونزمنه ده څو له ملي بودجې څخه د متقاعدينو حقوق ورکړي.

مګر په دې وروستيو کې ويل کېږي چې د عامه تقاعد صندوق جوړ شوی چې دا کار بايد کلونه وړاندې شوی وای، ځکه د تقاعد صندوق نشتون د متقاعدينو د حقوقو ځنډولو سبب هم کېده او دولت له ملي بودجې څخه د متقاعدينو حقوق ور کول او دا کار لا دوام لري. په داسې حال کې چې د متقاعدينو کره شمېرې او ارقام هم په خپله د حکومتي چارواکو د پوښتنې وړ ګرځېدل او دولت نه شوای کولی څو د متقاعدينو شمېرو ته په کتو، بودجه وضع کړي او په دې توګه يې ستونزو پيدا کولو ته لاره هواره کړې ده. د بېلګې په توګه، د جمهور رييس د ۳۵۴م فرمان او حکم له مخې، چې د ملي امنيت د عمومي رياست، د اداري اصلاحاتو کمېسيون، ماليې وزارت او د جمهوري رياست له استازو څخه يو ګډ هيئت جوړ شو څو د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت اړوند د تقاعد خزينې عمومي رياست د ۱۳۹۱ لمريز کال څخه تر ۱۳۹٦ لمريز پورې فعاليتونو و ارزوي. د ياد هيئت وروستي راپور له مخې، وليدل شول چې د يادو کلونو په ارقامو کې ښکته پورته والی او لوی توپير و.

د بېلګې په ډول، په ۱۳۹۱ لمريز کال کې د ثبت شويو متقاعدينو شمېره (۷۴۱۲۷) ښودل کېده او يو کال وروسته ياني په ۱۳۹۲ لمريز کال کې بيا د ثبت شويو متقاعدينو شمېره (٦۹٦۹۵) ښودل شوې ده، چې کموالی ښيي او ښايي لامل يې د خيالي متقاعدينو شتون او يا د کمزوري سيستم پلي کېدل وو. په همدې بنسټ، د تقاعد خزينې عمومي رياست د ټولو متقاعدينو د بايومټريک کولو په اړه وخت په وخت څرګندونې کړې دي، که څه هم په دې برخه کې يو لړ کارونه شوي؛ خو د بهرنيو مرستندويه ادارو او په ځانګړې توګه د نړيوال بانګ له لوري د تقاعد سيستم د پياوړي کېدو لپاره د ۱۲.۳ ميليونو ډالرو مرسته تر سره کول او يادو مرستو ته په کتو چې اړينه وه څو د تقاعد سيستم په اغېزناکه توګه پياوړی شوای وای، نه تر سترګو کېږي. سيګار يا د افغانستان د بيارغونې لپاره د امريکا څار اداري د ۲۰۱۹ ز کال نومبر مياشتې په راپور کې ويلي چې يوازې ۸۵ سلنه متقاعدين د بايومټريک سيستم په مټ ثبت شوي دي، په داسې حال کې چې د بايومټريک کولو لړۍ په ۲۰۱۷ ز کال کې پيل شوې ده.

خو بلخوا ويل کېږي په ۲۰۱۸ ز کال کې شاوخوا ۳٦ زره هغه متقاعدين چې د تقاعد له خزينې سره ثبت وو، د بايومټريک سيستم پر وړاندې نه دي حاضر شوي. اړينه ده څو د هغوی د معلومولو او پېژندلو لپاره يو هر اړخيزه هيئت جوړ شي او په دې اړه څېړنې وشي چې هغوی په کوم بنسټ دې سيستم ته نه دي حاضر شوي؟ که چېرته خيالي متقاعدين اوسي، بايد له هغوی څخه د قانون په رڼا کې د هغو متقاعدينو حقوق واخيستل شي چې کلونه کلونه يې د خپلو تقاعد اړوند حقوقو اخيستو لپاره د اړوند ادارو ورونه ټکولي او لالهانده ګرځېدلي وو او د پيسو نشتون په وجه يې اوږد انتظار ويستلی و.

**د تقاعد سيستم پياوړي کولو لپاره بايد څه وشي؟**

د متقاعدينو لپاره د اسانتياوو رامنځ ته کول بايد يوازې په ژمنو ورکولو پورې پاتې نه شي، بلکې په رښتينې توګه د شويو ژمنو عملي کول بايد تر سره شي. د متقاعدينو هغه سهميه او حقوق چې د دولت له خزانې اړوندو بانګونو ته لېږدول کېږي، بايد پر وخت ځنې نظارت وشي چې متقاعدينو ته پر وخت ورکول کېږي او که نه. ځکه ډېری وخت د تقاعد خزينه متقاعدينو ته وايي چې پيسې يې بانکي حسابونو ته تللې دي، مګر د بانکونو له لوري هغوی ته نه ورکول کېږي. دا چې ماليې وزارت يوازې له ميوند بانک او اسلامي بانک سره د متقاعدينو سهميو د ورکړې په برخه کې تړونونه لري، ماليې وزارت بايد د متقاعدينو اسانتياوو لپاره له نورو بانکونو سره هم چې ځانګې يې د هېواد په ډېرو برخو کې فعالې دي، هم تړونونه لاسليک کړي. د تقاعد په خزينه کې بايد هغه کسان پر دندو وګوماري چې اړوند او مسلکي زده کړې ولري او له عصري ټکنالوژۍ سره بلدتيا ولري، ځکه دا کار د مراجعينو کارونو ژر تر سره کېدو سره مرسته کولی شي. د سرپرستانو په نوم د ګومارنو پای ته رسول هم کولی شي د متقاعدينو اسانتياوو راوستلو لپاره اغېزمن واقع شي، ځکه سرپرست کار کوونکي نه شي کولی په اړينو برخو کې لازم اصلاحات راولي.

د متقاعدينو بانکي حسابونو ته پيسې د افغانستان بانک له لارې لېږدول کېږي، خو ليدل کېږي چې خصوصي بانکونه بيا پر وخت متقاعدينو ته خپلې پيسې نه ورکوي. مګر د افغانستان بانک چې پر ټولو بانکونو د نظارت دنده او مسووليت لري، چارواکي يې څرګندوي چې د متقاعدينو له بانکي حسابونو څخه نظارت د ماليې وزارت کار دی، ځکه هغوی له خصوصي بانکونو سره هوکړې لاسليک کړې دي. د وزارتونو او اړوندو ادارو تر منځ همغږي کولی شي د متقاعدينو لپاره اغېزمنه واقع شي.

د جمهور رييس د فرمان له مخې، يوازې د احصايې او معلوماتو ملي اداره کولی شي چې د ټولو دولتي، خصوصي او نړيوالو ادارو کار کوونکي بايومټريک کړي. نو اړتيا ليدل کېږي چې ياده اداره خپله وروستۍ نېټه د ټولو کار کوونکو د بايومټريک کولو لپاره اعلان کړي او خپل دغه اړين مسووليت ژر تر ژره تر سره کړي. ځکه دا کار کولی شي د متقاعدينو کره شمېره په ډاګه کړي، خيالي متقاعدينو او د فساد مخه ډب کړي. د تقاعد خزينه غواړي چې د ۱۳۹۹ لمريز کال د پلان له مخې، د تقاعد سهميه او برخه د تقاعد صندوق ته ولېږدوي، بايد په دې برخه کې جدي نظارت وشي، څو د هر ډول درغلۍ مخه ونيول شي.

بلخوا د تقاعد خزينه په پلان کې لري څو د ۱۳۹۹ لمريز کال په اوږدو کې د غير دولتي او خصوصي سکټور کار کوونکو تقاعد سيستم جوړ کړي. په داسې حال کې چې څو کاله وړاندې په ياده برخه کې د تقاعد مقررې کار تر سره کېدو په اړه څرګندونې کېدلې او بايد له هماغه پيل څخه پر سيستم جوړولو هم کار پيل شوای وای. ځکه د خصوصي سکټور کار کوونکو لپاره د تقاعد سيستم نشتون کولی شي ستونزې جوړې کړي. دا چې د تقاعد خزينې چارې د کار او ټولنيزو چارو وزارت څخه رسماً ماليې وزارت ته لېږدول شوې، نو اړينه ده چې ماليې وزارت د خصوصي سکټور لپاره داسې سيستم جوړ کړي، څو له يوې مخې د خصوصي سکټور د پرمختګ مخه ډب نه کړي او له بلې خوا د عامو کار کوونکو امتيازات هم په لويه کچه د تېښېدو ښکار ونه ګرځوي.

په داسې حال کې چې د تقاعد خزينه د ټول هېواد په کچه د شاوخوا ۱۵۴ زرو متقاعدينو د ثبت خبر ورکوي، حکومت په پام کې لري چې په هرو دريو کلونو کې ټول متقاعدين بيا ځلې بايومټريک کړي او تر بايومټريک کولو وړاندې يې د متقاعدينو او يا د هغوی له ورثه وو سره يې د الکترونيکي پېژندپاڼو شتون اړين ګڼلی. په داسې حال کې چې د الکترونيکي تذکرو د وېش لړۍ هم د کمزوريو امکاناتو په وجه د ځنډ ښکار ده. اړينه ده چې د الکترونيکي تذکرو وېش په برخه کې د متقاعدينو اسانتياوو په خاطر په اونۍ کې څو ځانګړې ورځې يوازې د متقاعدينو لپاره ځانګړې شي او يا د هغوی لپاره د ځانګړيو کړکيو او ځانګو رامنځ ته کول هم کولی شي له هغوی سره د الکترونيکي تذکرو په تر لاسه کولو کې اړينه مرسته وکړي. دا چې ځينې متقاعدين په لرې پرتو ولايتونو کې ژوند کوي او هلته د الکترونيکي پېژندپاڼو د وېش لړۍ لا نه ده پيل شوې، هغوی اړ دي څو پلازمېنې ته د الکترونيکي پېژندپاڼو تر لاسه کولو لپاره راشي. حکومت بايد هغوی ته هم د لومړنيو اسانتياوو رامنځ ته کولو په اړه کوټلي ګامونه پورته کړي، څو د متقاعدينو کارونه پر وخت او ښه توګه تر سره شي.


## د روڼتيا څار بنسټ: افغان حکومت خلکو ته د برېښنا په رسولو کې پاتې راغلی دی

د روڼتيا څار بنسټ ويلي، افغان حکومت خلکو ته د برېښنا په رسولو کې پاتې راغلی دی.

دغه بنسټ ويلي، تخنيکي ستونزې، د ظرفيتونو کموالی، د څار نشتون، د برېښنا له پروژو سره سياسي چلن، اداري فساد، د برېښنا اړوندو ادارو د مسوولينو شخصي سليقې او داسې نور د دې لامل شوي چې خلکو ته د برېښنا لازم خدمات ونه رسېږي.

د دغه بنسټ رييس سيد اکرام افضلي تېره ورځ د برېښنا په چارو کې د ستونزو په اړه د ياد بنسټ د يو څېړنيز راپور د وړاندې کولو پر مهال وويل، حکومت په ټوله کې د برېښنا پر وړاندې يو واضح ليدلوری نه لري او دغه کمزوري د دې لامل شوې چې د برېښنا کمښت، د هېواد پر اقتصادي او پرمختيايي چارو ناوړه اغېز وکړي.

نوموړي زياته کړې: «دا چې افغان حکومت يو ځانګړی ليدلوری نه لري، دا پخپله يوه ستونزه ده، د ځينو دولتي ادارو لږه لېوالتيا او ممانعت دی چې حتی هڅه يې کړې خنډونه رامنځ ته کړي او کوم سهم او واک چې په دې سکټور کې لري، هغه په دې قبمت وساتي، څو خلک برېښنا ته لاسرسی ونه لري.»



هغه دغه راز ويلي چې اوسمهال د برېښنا په سکټور کې د اوبو او برېښنا او د کليو د پراختيا وزارتو په ګډون، شاوخوا اته دولتي اداري ښکېلې دي چې يو تر بله همغږي نه لري، خو په دې برخه کې يو لړ پروژې پلې کوي.

د افضلي په خبره، د برېښنا له سکټور سره د مرستندويه هېوادونو له خوا له تېرو څه کم شلو کلونو راهيسې، شاوخوا څلور ميليارده ډالره مرسته شوې، خو د پروژو ټيټ کيفيت ته په کتو، داسې ښکاري چې په ډېرو پروژو کې فساد شوی دی.

د روڼتيا څار بنسټ ويلي، د دوی راپور کلنی دی او په بېلابېلو ولايتونو کې خلکو، دولتي ادارو او شرکتونو سره د مرکو پر مټ چمتو شوی دی.


په ورته وخت کې خلک هم د برېښنا د سکټور له خدمتونو ناخوښ دي او دوی حکومت په دې برخه کې پړ بولي.

د کابل ښار اوسېدونکي نصير ازادي راډيو ته ويلي: «د کابل د برېښنا سيستم ډېر خراب دی، برېښنا کله وي او کله نه وي، زورواکي ته برېښنا شته، خو غريبو لپاره نشته، بېلونه هم زيات راځي، په مېټرونو کې يو شی او په بېلونو کې بل شی وي.»

خو د روڼتيا څار بنسټ د څرګندونو په اړه د اوبو او برېښنا وزارت چارواکي وايي، که د برېښنا کومه پلان شوې پروژه نه وي پلې شوې، لامل يې ناامني ده او پرته له دې د برېښنا رسولو په برخه کې د دوی ټولې چارې په ښه توګه پر مخ روانې دي.

# د امریکا د خونړۍ جگړې بله رسوایي؛

## امریکایي پوځي: موږ ته ویل شوي وو چې د خلکو وژل او ویجاړۍ کول مو دنده ده



یوه امریکایي نظامي ویلي، دوی ته په افغانستان کې د جگړې پر مهال ویل شوي وو چې د ملکیانو په وژلو او د ورانیو په رامنځ ته کولو کې به صرفه نه کوي. امریکا نږدې شل کاله په افغانستان کې خونړۍ جگړه وکړه. امریکا د خپلې جگړې اصلي ماموریت د ترهگرو ختمول بولي، خو برعکس دلته د جگړې تر ټولو ستر پور عامو افغانانو پرې کړی دی. سره له دې چې نړیوالې او افغان رسنۍ په یوه خوله امریکا په افغانستان کې د ملکیانو پر وژنه تورنوي، خو اوس تازه د امریکایي پوځ خپلو غړو هم ویلي چې د امریکا کړنې په افغانستان کې له تېروتنې ډکې دي. دوی وایي، په امریکایي بریدونو کې په ښکاره توگه ملکي وگړي په نښه کېدل.

په وروستیو کې ملگرو ملتونو او د بشري حقونو نړیوال سازمان راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې د ملکي وگړو مرگ ژوبله لوړه شوې ده. دوی پر ښکېلو خواوو غږ وکړ چې د ملکي وگړو ژوند او جگړې قوانینو ته جدي پاملرنه وکړي. د ملکي تلفاتو د لوړېدو یو لامل د هوایي بریدونو ډېروالی ښودل شوی و. په دغو راپورونو کې همدا راز د ډېرو ملکیانو د وژل کېدو پړه پر طالبانو اچول شوې وه، خو طالبانو بېرته په غبرگون کې وویل چې د امریکا هوایي بریدونه د ملکي مرگ ژوبلې اصلي لامل دي.

د امریکا د هوایي بریدونو پر وړاندې له کلونو راهیسې ولس لاریونونه کوي، شکایتونه کوي، د مدني فعالیتونو بنسټونه یې د درېدو غوښتنه کوي، خو لا هم دغه بریدونه نه دي درول شوي او په هغو کې د ملکي وگړو مرگ ژوبله نه ده راکمه شوې. امریکایان په دغو بریدونو کې ملکي مرگ ژوبله تېروتنه بولي، خو تازه یوه امریکایي پوځي ویلي چې دا تېروتنه نه؛ بلکې بې پروایي او په ځینو مواردو کې قصدي کار دی.

د امریکا د هوایي پوځ پخوانی غړی براندون بریانټ وایي، دوی ته ویل شوي وو چې د عامو خلکو وژل او ورانۍ رامنځ ته کول یې دنده ده. نوموړي له ۲۰۰٦ تر ۲۰۱۱ ز کال پورې په افغانستان کې پوځي ماموریت درلود. هغه د بې پیلوټه الوتکې د کنټرول او هدایت مسوولیت درلود. په یوه هوایي برید کې د یوه ماشوم تر وژل کېدو وروسته یې له خپلې دندې استعفا ورکړه. د ده په خبره، ده احساس کړه چې قاتل دی او باید له دې کار نور لاس په سر شي. براندون وایي: پر یوې ودانۍ چې زموږ هدف پکې و، د توغندي د ویشتلو شېبه کې ما ولیدل، چې له دروازې یې ماشوم راووت. د ویډیو له بیاکتو وروسته مې مشرانو ته د وضعیت په اړه معلومات ورکړل. راته وویل شول چې سپی و، پروا یې مه ساته».

براندون په افغانستان کې د امریکا کړنې د نازیانو تر وژنو او قتل عام بدترې گڼې او وایي، دوی ته ویل شوي وو چې د خلکو د وژلو پروا ونه کړي. د ده په خبره، د امریکا له هوایي ځواک سره د کار په شپږ کلنه موده کې یې شخصاً ۱۳ کسان وژلي او ملگرو یې په دې موده کې د ښځو او ماشومانو په گډون، نږدې ۱٦۵۰ اهداف په نښه کړي دي.

دی وایي، د دندې په لومړۍ ورځ یې په یوه سیمه کې دوه کسان په نښه کړل او پخپلو سترگو یې لیدل چې له دې دواړو د یوه پښې دواړه پرې شوې وې او د وینې د ضایع کېدو له امله یې سا ورکړه. دی وایي: «چې څنگه گردونه هاخوا شول، د توغندي د لگېدو ځای کې دوه سړي پراته وو. یو هاخوا پروت و چې پښه یې له زنگانه پورته پرې وه. پښه یې نیولې وه، وینې ترې روانې وې او په ارامه ارامه مړ شو. ما یې سیل کاوه».

دغه امریکایي پوځي وایي چې د عامو افغانانو د وژلو له امله ځان ورته قاتل ښکارېږي او له سختو رواني کشمکشونو سره مخ دی. نوموړی دمگړۍ د امریکا له هوایي ځواکه ایستل شوی دی.

دا لومړی ځل نه دی چې په افغانستان کې د امریکا د خونړۍ جگړې په اړه اسناد افشا کېږي، بلکې تر دې وړاندې هم واشنگټن پوسټ او ځینو نورو امریکایي سیاسیونو دلته روانه جگړه خطرناکه، ناکامه، له لگښتونو ډکه او د عامو وگړو لپاره د تلفاتو ستر لامل بللې وه.

## الکوزي: د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو په اعلان کې ځنډ پر سوداگرۍ منفي اغېز کړی



د سوداگرۍ او صنایعو خونه پر لویو لارو له سوداگرو په ناقانونه ډول د پیسو له اخیستو سر ټکوي او وایي چې د ولسمشرۍ ټاکنو د پایلو ځنډ سوداگرۍ له ستونزو سره مخ کړې ده.

د سوداگرۍ او صنایعو خونې مرستیال خان جان الکوزي تېره ورځ په کابل کې په دې تړاو جوړې شوې غونډې ته وویل، د افغانستان د خلکو دنده ده چې مالیه ورکړي، خو حکومت باید پر لویو لارو د مالیې اخیستو په نوم د غیرقانوني پیسو اخیستونکو مخه ونیسي.

نوموړي زیاته کړې: «د کابل- هرات په لویه لاره او نورو لویو لارو لسگونه پوستې دي او په رڼا ورځ د سوداگرو موټر دروي او پیسې ترې اخلي.»

الکوزي په دې تړاو د ډېرو جزیاتو له ورکولو پرته ویلي چې دغه پوستې د محلي قوماندانانو او نورو غیرقانوني وسله والو له خوا جوړې شوې دي.

د الکوزي په خبره، د سوداگرۍ د پراختیا لپاره باید د سوداگرو امنیت ټینگ شي او په دې برخه کې نورې اړینې اسانتیاوې ورته برابرې شي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې د ولسمشرۍ ټاکنو د وروستیو پایلو په اعلان کې ځنډ هم پر سوداگریزو چارو ډېر منفي اغېز کړی او له شاوخوا شپږو میاشتو راهیسې د سوداگرۍ چارې له سختو ستونزو سره مخ دي.

نوموړي ویلي چې ژر تر ژره دې د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شي، څو د سوداگرۍ په ټپه درېدلې وضعیت پای ته ورسېږي.

ده همدارنگه ویلي چې د مالیې ورکولو پړاوونه هم ډېر سخت دي چې باید اسانتیاوې پکې راوستل شي.

په ورته وخت کې د مالیې وزارت د عوایدو او گمرکونو مرستیال محمد عیسی قدرت په دې ناسته کې له خصوصي سکټوره وغوښتل چې له مالیې وزارت سره د فساد د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي. هغه د یوې پوښتنې په ځواب کې چې د هرات- اسلام کلا په گمرک کې له سوداگرو په غیرقانوني ډول پیسې اخیستل کېږي، ویلي چې دغه موضوع به ډېر ژر د یو پلاوي له خوا وڅېړل شي.

## فیفا: د رایو د بیاشمېرنې په تړاو وروستۍ پرېکړه د اختلافونو له کبله ټاکنو کمېسیون ته نه ده استول شوې



د ټاکنیزو شکایتونو د څېړنې کمېسیون تر اوسه د ۳۰۰ زرو جنجالي رایو د یوې برخې د ځانگړې څېړنې په تړاو خپله پرېکړه د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته نه ده استولې.

پر ټاکنو څارونکې ډلې وایي، د یاد کمېسیون غړي د نوموړو رایو په اړه د پرېکړې د څرنگوالي په هکله اختلاف لري، نو له همدې امله دغه پرېکړه لا تر اوسه د ټاکنو له خپلواک کمېسیون سره نه ده شریکه شوې.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یا فیفا اجرایوي مشر یوسف رشید ویلي: «هغه ورځ چې دوی بحث له مطبوعاتو سره شریکوي او د خپلو پرېکړو پایله له خلکو سره شریکوي، په سبا یې دوی بیا هغه پرېکړې چې کړې یې دي، اختلاف پیدا کوي او یو بل پر دې او هغه تورنوي. بحث دا دی که چېرې تېروتنه مو کړې، باید مسوولیت یې ومنئ.»

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشاء پخواني رییس داوود علي نجفي په دې اړه ویلي: «که د ټاکنیزو شکایتونو د څېړنې کمېسیون پرېکړه ونه کړي او د ټاکنو کمېسیون په غاړه یې پرېکړې، د دې مانا دا ده له هغې اداري چې شکایت شوی، بېرته مسوولیت هماغه کمېسیون ته سپاري چې له هغې شکایت شوی، نو دی یوازې غواړي چې وخت تېر کړي او د قانون په مطابق خپل هېڅ ډول مسوولیت یې نه دی اجرا کړی.»

له دې سره سم، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ټاکنیزو شکایتونو د څېړنې له کمېسیونه غواړي چې د ۲۳۹ زرو مشکوکو او له ټاکل شوي مودې مخکې او یا هم وروسته کارول شویو رایو د څېړنې د څرنگوالي په اړه خپله پرېکړه له دغه کمېسیون سره شریکه کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشاء رییس حبیب الرحمان ننگ رسنیو ته ویلي: «کابو څلور ورځې کېږي، خو تر اوسه لاهم پرېکړې موږ ته نه دي رسېدلې.» بلخوا د ټاکنیزو شکایتونو د څېړنې کمېسیون غړي سید قطب الدین رویدار هم له دې پروسې بې خبري ښودلې ده. نوموړي ویلي: «زه تعجب کوم چې ولې تر اوسه پرېکړې استول شوې نه دي، د چهارشنبې په ورځ رسماً زموږ پرېکړې د رسنیو له لارې ابلاغ شوې او د وېب پاڼو له لارې هم خپرې شوې. باید وخته د ټاکنو کمېسیون ته استول شوې وای.»

## د ترکیې دفاع وزارت: که په ادلیب کې مو پر څارونکو پوستو برید وشي، سخت ځواب به ورکړو



د ترکیې دفاع وزارت خبرداری ورکړی چې که په ادلیب کې یې پر څارونکو پوستو برید وشي، سخت ځواب به ورکړي.

د دغه وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د سوریې په شمال-لوېدیځ کې به یې څارونکې پوستې خپل فعالیت ته دوام ورکړي او د احتمالي برید په صورت کې به سخت ځواب ورکړي.

د سرچینې په خبره، په ادلیب کې د ترکي ځواکونو د څارونکو پوستو شمېر ۱۲ ته رسېږي چې په سیمه کې د تاوتریخوالي د کابو کولو لپاره ځای پر ځای شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په ادلیب کې د سوري او ترکي ځواکونو تر منځ له نښتو وروسته، ترکیې تازه سیمې ته د خپلو پوځیانو د ملاتړ په موخه درنې وسلې او نظامي تجهیزات استولي دي.

په ورته وخت کې د ترکیې د دفاع وزارت په بیانیه کې راغلي چې په دې سیمه کې د عملیاتو پر مهال د پوځیانو د موټر د چپه کېدو په پېښه کې پنځه سرتېري ټپیان شوي دي.

د یادونې ده چې ترکیې د تېر میلادي کال په اکتوبر کې د سوریې په شمال کې د کردانو د کارگر گوند (پي کې کې) پر ضد د عملیاتو د پیلېدو اعلان وکړ، چې پراخ نړیوال غبرگونونه یې راوپارول. وروسته له هغې چې په دغو عملیاتو کې کردان د سیمې پرېښودو ته اړ شول، ترکي ځواکونو هلته پوځي تاسیسات او پوستې جوړې کړې چې د سوریې د حکومت له سخت مخالفت سره مخ شوې دي.

بلخوا له څو میاشتني اوربند وروسته په ادلیب کې د سوري ځواکونو په تازه پیل شویو عملیاتو کې چې د روسیې هوایي ملاتړ له ځانه سره لري، د حکومت له مخالفینو څخه پراخې سیمې نیول شوې دي. د سوریې د بشري حقونو لندن مېشتې ډلې ویلي چې په دغو عملیاتو کې زرگونه کسان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي. دغې ډلې د جگړې پر ښکېلو غاړو غږ کړی چې د ملکیانو ژوند ته جدي پام وکړي.

# د کتـاب خبـرې

## د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### د ۲۴ قراطه سرو زرو ژوند کول




په نړۍ کې د بریالیتوب له مخې درې ډوله خلک دي:
یو هغه چې نه بریالي کېږي؛
بل هغه چې د لنډمهال لپاره بریالي کېږي؛ او
درېیم هغه چې بریالي شي او بیا همداسې بریالي پاتې شي.
کرکټر درلودل د تلپاتې بریالیتوب یوازینۍ لاره ده.
په نړۍ کې د بریالیتوب له مخې درې ډوله خل      ک دي:
یو هغه چې نه بریالي کېږي؛
بل هغه چې لنډمهال لپاره بریالي کېږي؛ او
درېیم هغه چې بریالي شي او بیا همداسې بریالي پاتې شي.

دا مهمه نه ده چې خلک څومره تکړه دي، څومره شتمن دي او څومره جذاب دي، دوی په هېڅ صورت د خپل کرکټر له کړۍ بهر نه شي وتلی.

که داسې باکرکټره ژوند غواړئ چې د اخلاقي غوراوي څرګندونه ترې وشي، نو لاندې لارښوونې تعقیب کړئ. دا به درسره په خپل ژوند کې د اخلاقي قانون د ځلولو په برخه کې مرسته وکړي:

**۱. زرین قانون ځان ته په ژوند کې د رښتینولۍ لارښود وټاکئ!**

سویسي فیلسوف هنري فردیریک امیل ویلي:((څوک چې له روان جریان سره سم روان وي، څوک چې ځان له لوړو اصولو سره نه برابروي، څوک چې ایډیال نه لري، څوک چې ثبات او باور نه لري، داسې کس په نړۍ کې هسې مازې شی دی، هسې خوځېږي را خوځېږي، ژوند نه کوي او نه ځان خوځوي، دا خلک غږ نه وي، بلکې د غږ انګازه وي.))

هېڅوک نه غواړي چې د غږ انګازه شي او هېڅوک نه غواړي چې کمزوری او ناکام ژوند وکړي؛ خو څوک چې ژمن نه وي، د هغوی برخلیک همداسې وي. که تاسو هدفمن او مانادار ژوند غواړئ، نو د ژوند لپاره باید ځینې اصول او قوانین وټاکئ.

ما د زرین قانون لپاره یوه قضیه جوړه کړې ده. زه وایم، که دا پوښتنه وشي چې:((په دې حالت کې زه له خپل ځان سره څه ډول چلن غواړم؟)) نو دا په هر حالت کې د ثابت او سم چلن لپاره تر ټولو ښه لارښوونه ده. دا په هر ځای کې ګټه لري، که کاروبار وي، که د لوبې میدان وي، که ټولګی وي او که کور. له کارکوونکو سره هم ګټه لري، له بادارانو سره یې هم لري، له کورنۍ سره یې هم لري او له انډیوالانو سره یې هم لري. دا په هر ځای کې ګټه لري، ان که تاسو ډېر کوچنی کار کوئ یا ډېر لوی. هنري فورډ ویلي:((موږ تل پر دې پوهېدلي یو چې که زموږ اصل سم وي، نو هغه ځای هېڅ مهم نه دی چې دا اصول پکې عملي کېږي. اندازه یوازې د شمېرو د ضرب موضوع ده.))

که تاسو باور ولرئ چې زرین قانون سم دی او کار کوي، نو باید د سم ژوند د لارښود په توګه یې عملي کړئ.

هر وخت چې له اخلاقي موضوعاتو سره مخ کېږئ، نو له ځانه دا پوښتنه کوئ چې:«زه په دې حالت کې له ځان سره څه ډول چلن غواړم؟» تر هغې وروسته بیا د نولسمې پېړۍ د ناول لیکوال جورج ایلیټ دا نصیحت درسره اخلئ چې وایي:((رښتیني اوسئ، په سمو کارونو مه شرمېږئ، څه چې سم درته ښکاري، همغه وکړئ او پر همغو ودرېږئ.))

هر وخت چې له اخلاقي موضوعاتو سره مخ کېږئ، نو له ځانه دا پوښتنه کوئ چې :«زه په دې حالت کې ځان سره څه ډول چلن غواړم؟»

**۲. پرېکړې د رښتینولۍ د همدې لارښود پر اساس وکړئ!**

ځینې خلک په ژوند کې یوازې یو څو مهمې پرېکړې کوي او بیا هره ورځ همدا پرېکړې مدیریت کوي. که تاسو زرین قانون د خپل ژوند د سموالي او رښتینولۍ قانون وټاکه، نو پر خپلو ځینو پرېکړو باید بیا له سره فکر وکړئ.

زرین قانون به ستاسو موخې څنګه بدلې کړي؟ له کورنۍ سره به مو چلن بدل شي؟ تاسو باید خپل کاري شخصیت ته کتنه بدله کړئ؟ ځینې خلک ځکه د دندو بدلولو ته اړ وي چې کاري چاپېریال یې له زرین قانون سره په ټکر کې وي. کنفسیوس ویلي:((اصلي ناځواني دا ده چې ښه پوهېږې دا کار سم دی؛ خو کوې یې نه.)) څومره چې پرېکړه لویه وي، هومره به لوی همت درنه غواړي.

د خپل زیان په بیه سم کار کول اسانه نه دي؛ خو انعام یې ډېر لوی وي. د انتویچ کالج پخواني مشر هوریس مان ویلي:((څوک چې اصولو ته ژمن نه وي، د هغوی له خولې د اصولو خبرې عبث دي، څوک چې د روښانه راتلونکي لپاره د نن یوه شېبه نه شي قربانولای او د خوشالۍ خبره کوي، داسې دی لکه ړوند چې رنګونه درته تشریح کوي.))

تاسو چې په خپل ژوند کې زرین قانون پلی کوئ او د همدې پر اساس پرېکړې کوئ، نو دا یاد ساتئ:

- **اخلاق په شرایطو نه، په پرېکړو ښکارېږي**

د ضعیف کرکټر خاوندان د خپلو پرېکړو پړه پر حالاتو اچوي او اخلاقي خلک حالاتو ته په کتو سمې پرېکړې کوي. که دا خلک څو ښې پرېکړې وکړي، نو ځانونو ته تر ټولو ښه حالات او شرایط برابرولای شي.

**دوام لري...**

# زاول د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




زاول د لـوړو زده کـړو خـصوصي موسسه پـه ۱۳۹۱ لمریز کال کـې لـه لـوړو زده کـړو وزارت سره پـه پـر لـه پسې ۷۳یمه شـمېره ثبـت او راجسـټر شـوې ده او پـه همدې کال کې یې د لوړو زده کړو په برخـه کـې خپـل فعالیت پیـل کـړی دی.

د لـوړو زده کـړو دې موسسې پـه لومړي سر کـې یـو پوهنځـی (معالجـوي طـب) درلـود او د لومـړي ځـل لپـاره یـې پـه همـدې پوهنځـي کـې محصلیـن جـذب کـړل. لـږ مـوده نـه وه تېـره شـوې چـې د حقوقـو او سـیاسي علومـو پوهنځـي د فعالولـو جـواز یـې هـم واخیسـت. د لـوړو زده کـړو د دې موسسـې اداري مرستیال سید احمـد حیران وایـي، چې اوسمهال زاول د لوړو زده کړو موسسه ( معالجـوي طـب، سـتوماتولوژي، اقتصـاد، کمپیوټـر سـاینس، حقـوق او سـیاسي علـوم) پوهنځـي لـري چـې تـر څنـګ یـې د بریجېنـګ یـو بـل طبـي پوهنځـی هـم لـري چـې د قابلګـۍ، نرسـنګ او سـتوماتولوژي پـه برخـه کـې پکـې محصلیـن پـر زده کـړو بوخـت دي.

زاول د لـوړو زده کـړو پـه موسسـه کـې اوسـمهال د ۱۶۰۰ پـه شـاوخوا کـې محصلیـن پـه بېلابېلـو پوهنځیـو کـې پـر زده کـړو بوخـت دي، چـې ۴۰ سـلنه یـې ښـځینه او پاتـې ۶۰ سـلنه یـې بیـا نارینـه دي. ښـاغلی حیـران وایـي چـې تـر اوسـه پـورې یـې لـه ټولـو پوهنځیـو څخـه څلـور دورې محصلیـن د لېسـانس پـه کچـه ټولنـې تـه د خدمـت پـه موخـه وړانـدې کـړې دي. دی وایـي، ډېـری محصلیـن یـې پـه مرکـز او ولایتونـو کـې پـه دولتـي او خصـوصي رغتونونـو کـې او دغـه راز پـه نـورو ادارو کـې پـر کار بوخـت دي. ښـاغلی حیـران وایـي چـې لـه طبـي پوهنځیـو څخـه تـر فراغـت وروسـته لـه محصلینـو څخـه یـوه دولتـي ازموینـه هـم اخیسـتل کېږي، چـې پـه خبـره یـې د دوی ټـول محصلیـن لـه دې ازموینـې بریـالي وتـلي او اوس پـه بېلابېلـو ادارو کـې پـر دنـده بوخـت دي.

پـه زاول د لـوړو زده کـړو موسسـه کـې د تدریـس چـارې د لـږ تـر لـږه ۳۰۰ اسـتادانو لـه خـوا مـخ تـه وړل کېـږي، چـې ځینـې دایمـي او ځینـې یـې هـم قـراردادي اسـتادان دي. د دې موسسـې ادراي مرسـتیال وایـي، چـې اویـا سـلنه اسـتادان یـې پـه خپـل مسـلک کـې تخصـص لـري، د ماسـټرۍ او دوکتـورا تـر کچـې پـورې لـوړې زده کـړې لـري او د لوړو علمـي رتبـو درلودونکـي او پـه اړونده برخـه کـې د پـوره تجربـې څښـتنان دي. دی وایـي، دا چـې د لوړو زده کـړو د دې موسسـې د بنسـټ ډېـره خپلـه د ځینـو علمـي کادرونـو لـه خـوا اېښـودل شـوې ده، نـو د تدریـس لپـاره یـې هـم وړ او تجربـه لرونکـي اسـتادان ګومـارلي دي. ښـاغلی سید احمد حیـران وایـي، ډېـری اسـتادان یـې پـه دولتـي پوهنتونونـو کـې هـم د تدریـس چـارې مـخ تـه وړي.

د لـوړو زده کـړو دغـه موسسـه پـه کـور د ننـه او بهـر دواړو کـې لـه دولتـي او خصوصي پوهنتونونـو سره ښې اړیکې او د همکارۍ هوکړې لـري. ښـاغلی حیـران وایـي چـې پـه ترکیـه کـې یـې لـه یـوه پوهنتـون سره د دوو اړخیـزو همکاریـو هوکـړه لـري، چـې لـه مخـې یـې لـه طـب او سـتوماتولوژي پوهنځیـو څخـه فـارغ دری دورې محصلیـن د سـه تـاج دورې د پـوره کولـو او نـورو لـوړو زده کـړو، تجربو او وړتیـاوو تـر لاسـه کولـو لپـاره دغـه هېـواد تـه اسـتولي دي او پـه نـږدې راتلونکـي کـې بـه څلورمـه دوره محصلیـن هـم دغـه هېـواد تـه ولېـږي. دی وایـي چـې دغـه راز یـاد ترکـي پوهنتـون هـم کـولای شي چـې خپـل محصلیـن زاول پوهنتـون تـه را ولېـږي، څـو دلتـه زده کـړې وکـړي چـې تـر اوسـه پـورې یـې یـو محصـل چـې پـه اصـل کـې د افغانسـتان دی، خـو پـه ترکیـه کـې زېږېدلـی دی او اوس کابـل تـه د زده کـړو لپـاره راغلـی. دغـه راز زاول د لـوړو زده کـړو موسسـه د کابـل لـه طبـي پوهنتـون سره د دوو اړخیـزو همـکارو یـوه هوکـړه لـري، چـې لـه مخـې یـې د زاول د طبـي پوهنځیـو محصلیـن کـولای شي د کابـل طبـي پوهنتـون لـه لابراتوارونـو څخـه کار واخـلي او تـر څنـګ یـې د کابـل طبـي پوهنتـون محصلیـن د زاول د لـوړو زده کـړو موسسـې لـه امکاناتـو ګټـه پورتـه کـړي.

د زاول د لـوړو زده کـړو د موسسـې اداري مرسـتیال ښـاغلی سـید احمـد حیـران وایـي، چـې موسسـې یـې ټـول هغـه امکانـات چـې لـوړو زده کـړو وزارت د کیفیـت د تضمیـن پـه برخـه کـې پـه نښـه کـړي، د خپلـو محصلینـو پـه واک کـې ورکـړي دي. دی وایـي چـې شـنه ساحه، د سـپورت میدانونـه او جمنازیمونـه، طعام خـوري، کمپیوټـر لـب او د مطالعـې د ځـای امکانـات یـې خپلـو محصلینـو تـه برابـر کـړي دي. حیـران وایـي، د کتابتـون لپـاره یـې لـوی سـالون د محصلینـو پـه واک کـې ورکـړی دی چـې اوسـمهال پـه کـې د اتـو زرو پـه شـاوخوا کـې بېلابېـل کتابونـه پـه فزیکـي ډول موجـود دي او محصلیـن او اسـتادان یـې تـرې ګټـه اخـلي. د دې تـر څنـګ، د اویـا زرو جلدو پـه شـاوخوا کـې یـې پـه سـافټ ډل کتابونـه پـه کمپیوټرونـو کـې د محصلینـو پـه واک کـې ورکـړي دي.

زاول د لـوړو زده کـړو موسسـه پـه دریـو غیـر طبـي پوهنځیـو کـې د یـوې تحصیـلي دورې لپـاره پـه عمومـي ډول د ټولـو محصلینـو لپـاره ځانګـړی تخفیـف ورکـوي. د دې تـر څنـګ، د ځوانانـو لـه معینیـت سره د ځانګـړې هوکـړې لـه مخـې هغـه محصلیـن چـې دوی تـه ور پېژنـدل کېـږي، ځانګـړی تخفیـف ورکـوي. ښـاغلی حیـران منـي چـې ځینـو فـارغ شـویو محصلینـو تـه پـر وخـت تحصیـلي اسـنادونه نـه ورکـول کېـږي. دی وایـي، دوی د محصلینـو تـر فراغـت وروسـته ډېـر ژر ټـول اړیـن اسـنادونه لـوړو زده کـړو وزارت تـه سـپاري، خـو دا چـې د خصوصي پوهنتونونـو شـمېر او د فارغینـو شـمېر یـې ډېـر دی او پـه وزارت کـې د خصوصي پوهنتونونـو د ریاسـت د کار کوونکـو شـمېر کـم دی، نـو معلومـه خبـره ده چـې د اسـنادونو د تایید مرحلـه یـو څـه ځنډنـۍ کېـږي. دی وایـي، د موسسـې د اداري لـه خـوا یـې پـه دې برخـه کـې هېـڅ سـتونزه نشـته او پـه خپـل وخـت اقـدام کـوي.

د زاول د لـوړو زده کـړو موسسـې اداره غـواړي، چـې لومـړی پوهنتـون تـه ارتقـاع وکـړي، د ماسـټرۍ پروګـرام پیـل کـړي، نـور پوهنځـي ولـري او پـر کابـل سربېـره، د هېـواد پـه نـورو ولایتونـو کـې هـم څانګـې ولـري. ښـاغلی حیـران وایـي چـې لـوړو زده کـړو وزارت تـه یـې پـه کابـل ښـار کـې د یـوې بلـې څانګـې د پرانیسـتلو وړاندیـز کـړی دی، خـو منـل شـوی نـه دی، ځکـه چـې اوس دسـتي لـوړو زده کـړو وزارت د ولسـمشر پـه امر پـه خصوصي پوهنتونونو کـې د نویـو پوهنځیـو د ایجـاد، نویو څانګو د پرانیسـتلو او یـا هـم د ماسـټرۍ پروګـرام د پیلولـو چـارې بنـدې کـړې دي، خـو کـه دغـه څـه تـه پـه راتلونکـې کـې اجازه ورکـړل شي، دوی بـه پـر کابـل سربېـره پـه نـورو ولایتونـو کـې هـم څانګـې پرانیـزي.

ښـاغلی حیـران لـه لـوړو زده کـړو وزارت، کابـل ښـاروالۍ او کلیـو او بیارغونـې وزارت څخـه غـواړي چـې د کابـل ښـار پـه یـوه سـتراتیژیکه برخـه کـې خصوصي پوهنتونونـو تـه یـوه سـاحه ځانګـړې کـړي، څـو دوی پکـې معیـاري او دایمـي ودانـۍ ولـري چـې دغـه څـه د پوهنتونونو لپـاره یـوه اړینـه اړتیـا ده او د خصـوصي پوهنتونونـو ارزښـت او کیفیـت ور سره لوړېدلـی شي. دی وایـي، اوسـمهال ډېـری خصـوصي پوهنتونونـه پـه داسـې کرایـي کورونـو کـې فعالیـت کـوي، چـې هغـه پـه اصـل کـې د پوهنتـون لپـاره نـه دي جـوړ شـوي او هغـه امکانـات نـه لـري چـې یـو پوهنتـون یـې بایـد ولـري. د دې تـر څنـګ، ښـاغلی حیـران وایـي چـې د زیاتـې مالیـې د ورکـړې پـه برخـه کـې یـې هـم څـو ځلـه خپلـه سـتونزه لـه اړونـدو ادارو سره شریکـه کـړې ده. دی وایـي، مالیـې وزارت لـه یـوه تولیـدي شرکـت او پوهنتـون څخـه پـه یـوه کچـه مالیـه اخـلي، پـه داسـې حـال کـې چـې تولیـدي شرکتونـه سـل سـلنه ګټـه کـوي، خـو پوهنتونونـه د یـو څـه ګټـې تـر څنـګ، د هېـواد پـه ابـادۍ کـې برخـه اخـلي، د خلکـو بچیـان روزي او پـه دې برخـه کـې ډېـر لګښـت کـوي. د دایمـي برېښـنا نشـتون هـم د خصـوصي پوهنتونونـو د پرمختـګ پـه مخکـې یـو خنـډ دی، چـې ښـاغلی حیـران یـې د لـرې کېدو غوښـتنه کـوي. دی وایـي چـې پوهنتـون بایـد ۲۴ سـاعته برېښـنا ولـري او د هغـو پوهنځیـو لپـاره خـو بیـا بیخـي ډېـره اړینـه ده چـې نظـري کار تـه اړتیـا لـري او پـه لابراتوارونـو کـې کار پکـې کېـږي. دی لـه لـوړو زده کـړو وزارت او پـه ټولـه کـې لـه افغـان حکومـت څخـه غـواړي چـې خصـوصي پوهنتونونـو تـه د متـوازن پرمختـګ زمینـه برابـره کـړي.

# اقتصاد

## د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۰ |
| € | ۸٤,۳۰ |
| Rp. | ٤۹۲ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۹۰ |

## پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اپمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# هرآنچه باید درمورد ویروس کرونا بدانید؛ از منشا تا راه‌های پیشگیری از آن

ترجمه: احمد فردوسی

ویروس کرونا نوعی ویروس است که سبب عفونت در دستگاه‌های تنفسی فوقانی یعنی بینی، سینوس‌ها و گلو می‌شود. بیشتر ویروس‌های کرونا خطرناک نیستند، اما برخی از انواع آن واقعاً جدی هستند. به‌تازگی، نوع جدیدی از این ویروس شایع شده است که برخی به‌اشتباه آن را بیماری کرونا می‌نامند. به همین دلیل، این مطلب را آماده کرده‌ایم تا از آخرین اطلاعات به‌دست‌آمده و روش پیشگیری و درمان بیماری ناشی از ویروس کرونا آگاهتان کنیم. با ما همراه باشید.

**تاریخچه ویروس کرونا**

این ویروس اولین بار در دهه ۱۹٦۰ شناسایی شد، اما هنوز مشخص نشده است که همان بار اول از کجا سرچشمه گرفته بود. از آنجاکه این ویروس‌ها تاجی‌شکل هستند، آنها را کرونا نامیده‌اند. گاهی اوقات (نه اغلب مواقع)، ویروس کرونا می‌تواند بین انسان و حیوان مشترک باشد.

شیوه انتشار بیشتر ویروس‌های کرونا مشابه سایر ویروس‌های عامل سرماخوردگی است، یعنی از طریق افراد آلوده منتقل می‌شود؛ به‌این‌صورت که با سرفه یا عطسه در هوا پخش می‌شود و از طریق دست‌دادن، روبوسی، لمس سر و صورت فرد مبتلا و لمس اشیایی مانند دستگیره دری که افراد بیمار به آنها دست زده‌اند، به دیگران سرایت می‌کند.

تقریباً هر فرد در طول زندگی‌اش حداقل یک بار (به‌ویژه در خردسالی) به عفونت ناشی از ویروس کرونا مبتلا می‌شود. شدت علائم آن از خفیف تا متوسط است و در برخی موارد، ممکن است به بیماری‌های دستگاه تنفسی تحتانی مانند ذات الریه و برونشیت منجر شود. در بسیاری از کشورها، ابتلا به بیماری ناشی از ویروس کرونا در فصول سرد سال (پاییز و زمستان) رایج است، اما هرکس در هر زمان ممکن است به آن مبتلا شود.

این ویروس‌ها در بین حیوانات شایع هستند، اما فقط تعداد کمی از آنها بر انسان تأثیر می‌گذارند. به ندرت ویروس کرونا ممکن است تکامل یابد و از حیوان به انسان منتقل شود. دو نوع از ویروس‌های کرونای تکامل‌یافته، مرس و سارس بودند که از حیوانات به انسان منتقل شدند و علائم آنها شدیدتر از ویروس‌های کرونای انسانی بود.

**ویروس مرس**

در سال ۲۰۱۲، سندرم تنفسی خاورمیانه یا مرس (MERS) در عربستان و سپس در کشورهای دیگر خاورمیانه و نیز آفریقا، آسیا و اروپا شیوع پیدا کرد. دلیل شیوع این ویروس لمس یا تماس با شترهای آلوده یا مصرف گوشت و شیر آنها بود. در آن سال‌ها حدود ۸۵۸ نفر جان خود را از دست دادند. در آوریل سال ۲۰۱۴، اولین فرد آمریکایی را در ایالت ایندیانا به‌دلیل ابتلا به این سندرم بستری کردند و مورد دیگری هم در فلوریدا گزارش شد. هر دوی این بیماران از سفر به عربستان بازگشته بودند. در ماه مه سال ۲۰۱۵، این بیماری در کره شیوع یافت که گسترده‌ترین شیوع این بیماری در خارج از شبه‌جزیره عربستان بود.

**ویروس سارس**

در سال ۲۰۰۳، سندرم حاد تنفسی (سارس) در جنوب چین شیوع یافت که به‌موجب آن ۷۷۴ نفر جان خود را از دست دادند. دلیل آن ظاهراً مصرف گوشت گربه‌هایی موسوم به گربه زبّاد بود که خوردن آنها در جنوب چین متداول است. این عفونت از خفاش‌ها به این گربه‌ها سرایت کرده بود. از سال ۲۰۱۵ تاکنون، دیگر هیچ موردی از ابتلا به سارس گزارش نشده است.

**ویروس کرونای جدید**

در اوایل ۲۰۲۰، سازمان صحت جهانی نوع جدیدی از این ویروس را شناسایی کرد: ویروس کرونای جدید ۲۰۱۹ که به اختصار nCoV-۲۰۱۹ نامیده می‌شود و شیوع آن باز هم از چین آغاز شده است. احتمالاً این ویروس هم به‌دلیل تماس با حیوانات آلوده یا خوردن‌شان در شهر ووهان به افراد منتقل شده است.

**نشانه‌های معمول ویروس کرونا چه هستند؟**

بیشتر ویروس‌های کرونا علائم مشابهی در دستگاه‌های تنفسی فوقانی به‌شکل گرفتگی بینی و آبریزش بینی، سرفه، گلودرد و گاهی تب ایجاد می‌کنند. همچنین ویروس کرونا ممکن است سبب عفونت گوش میانی در کودکان شود. البته در بیشتر موارد نمی‌توانید مطمئن شوید علائم بیماری‌تان از ویروس کروناست یا از ویروس‌های سرماخوردگی دیگری مانند راینو ویروس.

برای تشخیص این بیماری می‌توانید آزمایش‌هایی از جمله کشت ترشحات بینی و گلو و نیز آزمایش خون را انجام دهید، اما دلیلی برای این کار وجود ندارد. آزمایش هیچ تغییری در علائم بیماری که معمولاً طی چند روز برطرف می‌شوند ایجاد نمی‌کند. بااین‌حال اگر عفونت ناشی از ویروس کرونا به دستگاه تنفسی تحتانی یعنی به نای و ریه‌ها برسد، ممکن است به ذات‌الریه منجر شود. این خطر به‌ویژه در افراد مسن، افراد مبتلا به بیماری قلبی و یا افراد دارای سیستم ایمنی ضعیف بیشتر است.

بااین‌حال، داکتر بین کائو (Bin Cao) از بیمارستان «دوستی چین و جاپان (China-Japan Friendship) به‌تازگی در مجله The Lancet مطالعه‌ای منتشر کرده است. به‌باور این محقق پوهنتون صحی کپیتال (Capital Medical University)، علائم ویروس کرونای جدید شباهت زیادی به سارس دارد. این علائم عبارت‌اند از: تب، سرفه و مشکل در تنفس؛ اما او معتقد است که تفاوت‌های مهمی بین این دو بیماری هست. او می‌گوید:

«این بیماری علائمی مشابه به سارس دارد، اما برخی علائم مربوط به دستگاه تنفسی فوقانی مانند آب‌ریزش بینی، عطسه، گلودرد و علائم گوارشی مانند اسهال (که ۲۰ تا ۲۵ درصد از بیماران مبتلا به سارس را درگیر می‌کرد) در این افراد دیده نمی‌شود.»

بیشتر ویروس‌های کرونا علائم مشابهی در دستگاه‌های تنفسی فوقانی به‌شکل گرفتگی و آب‌ریزش بینی، سرفه، گلودرد و گاهی تب ایجاد می‌کنند. همچنین ویروس کرونا ممکن است سبب عفونت گوش میانی در کودکان شود.

**این ویروس از کجا آمده است؟**

این ویروس اولین بار در شهر ووهان و در افرادی مشاهده شده است که از یک بازار حیوانات و غذاهای دریایی محلی خرید کرده بودند. بنابراین، مقامات فقط می‌توانستند بگویند که این ویروس احتمالاً از حیوان به انسان منتقل شده است. بااین‌حال، در یک مطالعه جدید، محققان توالی ژن‌های این ویروس را به دست آوردند؛ سپس آن را با توالی جنتیکی بیش از ۲۰۰ مورد ویروس کرونای دیگر (که حیوانات را آلوده می‌کنند) مقایسه کردند. یافته‌های آنها در مجله ویروس‌شناسی صحی (Journal of Medical Virology) منتشر شد و نشان داد که ویروس کرونای nCoV-۲۰۱۹ احتمالاً از مارها سرچشمه می‌گیرد.



در مورد نوع مار، دانشمندان خاطرنشان کردند که دو نوع مار در جنوب‌شرقی چین وجود دارد که این ویروس احتمالاً از آنها شیوع یافته است: نوعی مار کریت (many-banded krait) و کبرای چینی (ناجا آترا).

بااین‌حال، برخی از کارشناسان با انتقاد از این مطالعه گفته‌اند که هنوز مشخص نیست ویروس‌های کرونا می‌توانند مارها را واقعاً آلوده کنند یا نه.

**چگونه ویروس از حیوان به انسان منتقل می‌شود؟**

برخی از ویروس‌ها می‌توانند به انسان منتقل شوند؛ ویروس کرونا هم یکی از آنهاست. دانشمندان در مطالعه‌ای در مجله صحی ویروس‌شناسی، مار را به‌عنوان میزبان احتمالی این ویروس معرفی کردند. آنان دریافتند که تغییر در یکی از پروتین‌های ویروسی کرونای جدید، امکان شناسایی و اتصال به گیرنده‌های سلول‌های میزبان خاصی را برای این ویروس فراهم می‌کند. این قابلیت گام مهمی برای ورود به سلول‌هاست. به‌عقیدهٔ این پژوهشگران، تغییر در این پروتئین خاص ممکن است به انتقال این ویروس به انسان کمک کند .

**راه‌های انتقال ویروس کرونا چیست؟**

این ویروس به روش‌های زیر از فرد آلوده به دیگران منتقل می‌شود:

هوا (به‌دلیل پخش ذرات ویروسی ناشی از سرفه یا عطسه)؛

تماس نزدیک با فرد آلوده (لمس کردن سر و صورت فرد آلوده یا دست‌دادن با او)؛

لمس سطح یا شیئی که ذرات ویروسی روی آن وجود دارند (این ذرات روی دست‌ها می‌نشینند و قبل از شستن دست‌ها با دست‌زدن به دهان، بینی یا چشم‌ها وارد بدن می‌شوند)؛

به‌ندرت، آلودگی با مدفوع.

**چطور این ویروس همه‌گیر می‌شود؟**

این ویروس (یا هر ویروس دیگری) زمانی حالت اپیدمی یا همه‌گیر پیدا می‌کند که اول از همه، انسان را به‌خوبی آلوده کند، در انسان تکثیر شود و سپس به‌آسانی بین آنها منتشر می‌شود. درحال‌حاضر، مرکز پیشگیری و کنترل بیماری‌ها می‌گوید که این ویروس به‌شکل محدود در بین انسان‌ها درحال پخش‌شدن است، اما آنها هنوز در حال بررسی این موضوع هستند.

**آیا می‌توان ویروس کرونا را با مرس یا سارس مقایسه کرد؟**

مرس و سارس هر دو به‌دلیل علائم شدیدی شهرت داشتند که در افراد ایجاد می‌کردند. هنوز مشخص نیست که چطور باید شدت علائم ویروس کرونای جدید را با آنها مقایسه کنیم، زیرا در برخی بیماران با علائم شدید و مرگ همراه بوده و در برخی دیگر فقط نشانه‌های خفیفی مشاهده شده است. هر سه ویروس از طریق تماس نزدیک با فرد آلوده بین افراد منتشر می‌شوند.

برای پیشگیری و درمان کرونا، چه کارهایی می‌توانیم انجام دهیم؟

باتوجه‌به مرکز پیشگیری و کنترل بیماری‌ها، درمان خاصی برای بیماری ناشی از ویروس کرونا وجود ندارد و بیشتر افراد با مراقبت‌های ویژه مخصوصاً استراحت و دارو (برای رفع علائم) بهبود می‌یابند. بااین‌حال، اگر نگران هستید یا علائم شدیدی دارید، حتماً به داکتر مراجعه کنید (این فقط مختص ویروس کرونا نیست و درباره همه بیماری های ویروسی صدق می‌کند.)

هیچ واکسینی برای ویروس کرونا وجود ندارد، اما محققان انستیتیوت ملی صحت آمریکا گفته‌اند که در مراحل اولیه تولید یک واکسین هستند. علاوه‌براین، شرکت دارویی رگنرون (Regeneron) اعلام کرد که در مراحل اولیه یافتن درمانی برای بیماری‌های ناشی از این ویروس هستند.

برای جلوگیری از آلودگی به ویروس کرونا، همان کارهایی را باید انجام دهید که برای پیشگیری از سرماخوردگی انجام می‌دهید:

دست‌هایتان را چندبار در روز با آب گرم و صابون یا با ضدعفونی‌کننده الکولی بشویید؛

دست‌ها و انگشت‌هایتان را به چشم‌ها، بینی و دهان‌تان نزنید؛

فاصله‌تان را از افراد احتمالاً آلوده حفظ کنید.

درصورتی‌که آلوده شدید، برای درمان به همان روشی عمل کنید که برای سرماخوردگی انجام می‌دهید:

به اندازه کافی استراحت کنید.

مایعات زیاد بنوشید.

برای گلودرد و تب می‌توانید از داروهای بدون نسخه استفاده کنید. فراموش نکنید که به کودکان یا نوجوانان زیر ۱۹ سال آسپرین ندهید. به‌جای آن از ایبوپروفن یا استامینوفن استفاده کنید.

بخوردادن با آب داغ یا استفاده از دستگاه بخور می‌تواند به تسکین گلودرد و خراشیدگی آن کمک کند.

اگر شرایط حاد بود، حتماً به داکتر مراجعه کنید.

**در روزهای آینده باید منتظر چه وقایعی باشیم؟**

باتوجه‌به تجربیاتی که از مرس و سارس داریم، به‌احتمال زیاد، این ویروس از طریق تماس نزدیک بین انسان‌ها گسترش خواهد یافت. موارد آلودگی بیشتر (احتمالاً در کشورهایی از جمله آمریکا) در روزهای آینده مشخص خواهد شد .

مرکز پیشگیری و کنترل بیماری‌ها به‌تازگی در بیانیه‌ای اظهار داشته است: احتمالاً در روزها و هفته‌های آینده شاهد آلودگی افراد بیشتری به این ویروس خواهیم بود. در شیوع قبلی مرس و سارس، این انتقال از انسان به انسان هم اتفاق افتاد. این بیماری به کارکنان مراکز بهداشتی که از بیماران مبتلا به بیماری ناشی از ویروس کرونا مراقبت می‌کنند، نیز سرایت می‌کند.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغي ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د فبروري نهمه | ۵۱۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۱ | ۱۸ |
| -۳ | ۱۰ | ٦ | ۷ | ٦ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۱ | لمر ختل ۰٦:٤٤ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۰۸ | ماښام ۰۵:۳۰ | ماخوستن ۰٦:۵٦

## نړۍ




## قیصاري: نهادهای عدلی و قضایی باید چگونگی حمله نیروهای امنیتی را بر خانه‌ام بررسی کنند



در حدود دوماه پس از حملهٔ نیروهای امنیتی از زمین و هوا بر خانهٔ نظام‌الدین قیصاری در مزارشریف، اکنون این فرماندهٔ پیشین پولیس ولسوالی قیصار ولایت فاریاب، خواهان بررسی چگونگی این حمله است.
قیصاری می‌گوید که نهادهای عدلی و قضایی باید چگونگی حمله‌های هوایی و زمینی نیروهای امنیتی را بر خانه‌اش بررسی کنند.
نیروهای امنیتی با حمله بر خانهٔ آقای قیصاری، ساعت‌ها با افراد او درگیر شدند؛ اما سرانجام موفق نشدند اورا بازداشت کنند.
از آن زمان تاکنون، مکان بودوباش نظام‌الدین قیصاری مشخص نیست. او در این گفت‌وگو نیز جای بودوباشش را نگفت: «من که شش ماه پیش در امنیت ملی بودم، چرا از ما یک بازخواست نکرد و مرا به څارنوالي و محکمه راجع نکرد؟»
نظام‌الدین قیصاری می‌گوید که از این حملهٔ نیروهای دولتی جان به سلامت برد، اما شش تن از نگهبانانش کشته شدند.
این قوماندان محلی می‌افزاید که هنگام حمله‌های هوایی نیروهای دولتی، همسر و فرزندانش نیز با او بودند: «آن‌گونه که از خانه بیرون شدم، همان‌گونه خرابی کرده می‌توانستم. من همرای دونفر از خانه بیرون شدم با دو میل کلاشنکوف.»
در عین حال بشیر احمد ته‌ینج سخن‌گوی جنبش ملی اسلامی افغانستان نیز در این باره گفت: «هیچ ارگان امنیتی چه عدلی و قضایی باشد، چه کشفی و استخباراتی، هنوز برای تحقیقات و اجراآت شان و برای به کیفر رساندن عاملان این قضیه با ما هیچ‌گونه اطمینانی نداده‌اند.»

## راپورونه: امریکا د سوریې په شمال کې د نفتو مهمې زېرمې ته نږدې لویه پوځي اډه جوړوي



د اناتولي خبري اژانس د راپور له مخې، امریکا د سوریې په الرمیلان سیمه کې چې د تېلو پراخې زېرمې لري، د یوې لویې پوځي اډې پر جوړولو کار پیل کړی دی.
د دغه اژانس د راپور له مخې، امریکایي ځواکونو په دې سیمه کې تر دې وړاندې هم حضور درلود، خو په تازه اقدام کې یې د پراخو نظامي تاسیساتو پر جوړولو کار پیل کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د سوریې شمالي سیمې چې د نفتو غني زېرمې لري، د امریکا او روسیې تر منځ د سیالۍ پر ډګر بدلې شوې دي.
د سرچینې په خبره، د امریکا له دغه اقدام وړاندې روسي ځواکونو هم څو ځله دې سیمې ته د ننوتلو هڅه کړې، خو د امریکایي پوځیانو له خوا یې مخه نیول شوې ده.
د اناتولي د راپور له مخې، امریکا د دغې سترې نظامي اډې د جوړولو لپاره له عراقه په لویه پیمانه نظامي تجهیزات او وسایل راوړي او په سیمه کې یې د امنیت د ټینګښت په موخه هوایي اوتنې هم زیاتې کړې دي.
د یادونې ده چې امریکا په سوریه کې د دغې نظامي اډې د جوړولو کار داسې مهال پیل کړی چې تر دې وړاندې ولسمشر ټرمپ تېر کال وویل، چې له سوریې به ټول ځواکونه بېرته خپل هېواد ته ستانه کړي.

## راپورونه: سعودي عربستان د کشمیر په تړاو د پاکستان غوښتنه رد کړې

سعودي عربستان د اسلامي همکارۍ سازمان په غونډه کې د کشمیر مسئلې په اړه د پاکستان د څېړنې غوښتنه رد کړې ده.
د هندو ورځپاڼې د راپور له مخې، پاکستان د روانې میاشتې په لومړیو کې ویلي وو چې له ډیپلوماټیکو لارو د کشمیر په مسئله کې د بریا خپلولو په لټه کې دی او د یادې مسئلې په اړه یې له سعودي عربستان څخه د مرستې ډاډ تر لاسه کړی دی، خو په هغه وخت کې یاد سازمان په خپله اعلامیه کې په دې اړه هېڅ نظر نه و ورکړی. د ورځپاڼې په خبره، پاکستانی ډان ورځپاڼې په دې وروستیو کې راپور ورکړی دی چې سعودي عربستان د کشمیر مسئلې په اړه د پاکستان غوښتنه رد کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په خپله وروستۍ وینا کې ویلي وو چې دوی د سولې غوښتونکي دي او له ډیپلوماټیکو لارو هڅه کوي چې د کشمیر د ازادۍ ډاډ تر لاسه کړي.
د یادونې ده چې د هند د پارلمان له خوا د دغه هېواد تر کنټرول لاندې کشمیر د کورواکۍ له بېرته اخیستو وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ کړکېچ د بل هر وخت په پرتله ډېر شوی دی.

## ژوند

## که ډېر خواږه ونه خورئ، دا ګټې به مو کړې وي



د شمالي کارولینا پوهنتون د یوې څېړنې له مخې، هر عادي انسان د ورځې په اوسط ډول ۳۰۰ کالوري له بورې څخه لاس ته راوړي. ۲۰ سلنه امریکان د ورځې ۷۰۰ کالوري انرژي له هغو خوړو او څښو څخه راوړي، چې بوره ورګډه شوې وي. له خالصې بورې نیولې بیا تر کیک او کلچې پورې او ان تر مستو پورې خلک بوره استعمالوي او خوري یې. خو ډاکتران وایي چې که بوره ونه خورئ او یا د بورې خوراک راکم کړئ، نو ډېرې ګټې به وکړئ. که بوره ونه خورئ؛ نو زړه مو قوي کېږي، خوب به مو ښه وي، حافظه به مو پیاوړې وي او له وزن بایللو سره مرسته کوي. د بورې نه خوړلو بله مهمه ګټه دا ده، چې وزن ورسره کمېږي. یانې هغه څوک چې بوره نه خوري، د وزن زیاتیدو مخه به یې نیولې وي. که یو څوک د ورځې ۲۰۰ کالوري بوره کمه کړي، په ۵ یا ٦ میاشتو کې به یې ۱۰ پونډه وزن کم کړی وي.

## له ماتې وېره مو له بریا پاتې کوي



د آی بي ایم بنسټګر ټامس واټسن وایي، که غواړئ ډېر بریالي وی، له ماتې مه وېرېږئ. مانا دا چې په کسب او کار کې ماتې د برې محرکه قوه ده. هغه کسان چې له خپلې ماتې درس واخلي او د جبران په لټه کې یې شي، په خپل کار کې بریالي کېږي. هوښیار او وړ کسان له خپلو ماتو درس اخلي، خو نور هغه له ماتې وروسته خپله روحیه له لاسه ورکوي. د بېلګې په توګه، تاسې په یوه شرکت کې کار کوی، کار درنه خرابېږي، کوښښ مه کوئ چې په خپله خرابي او ماتې ټول خبر کړئ، هڅه وکړئ چې جبران یې کړئ. له واقعیتونو سره له مخامخ کېدو وېره مه لرئ، ځکه په دې وېرې سره ستاسې د بریالیتوب مخه ډب کېږي. تاسې که د نړۍ د میلیاردرانو تېر ژوند وګورئ، ډېری هغو یې په ژوند کې سختې ماتې خوړلې دي، خو وروسته په خپلو چارو کې بریالي راوتي دي او پر خپلو پښو درېدلي دي. له ماتې پرته بریا ناشونې ده، ماتې ده چې بریا ته لاره هواروي.

خپله سوداګري د عزیزي بانک جاري حساب سره بدایه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوګانې او سفارتونه پرانېستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انګلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لګښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انګلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړیني دي.
د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمیرې اړیکه ونیسئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af